# مدو او د هغهٔ بابا يوه څېړنه

**Maddo and Maddo's Father: Description of Short Names in the poetry of Khushal Khan Khattak**

ډاکټر علي خېل درياب

**Abstract**: *Khushal Khan Khattak (1022-1100 ) the reckoned Pashto poet has mentioned the names of 325 different persons in his poetry. These names are narrated in different contexts and with different gestures. Sometimes he praises and shares his inspirations and the other time describes certain persons with a high satirical connotation. In this paper the scholar has strived to track some of the generic short names that are used with in poetry, while most of the papers cater the specific short names of Maddo and Maddo's Father. According to the scholar "Maddo" is the short name of Mukkaram Khan Khattak, the grandson of Khushal Khan while "Maddo" father was Behram Khan, the son and rival counterpart of Khushal Khan till the last moments of his life. This paper certainly adds a value to the poetry for retrieving the history of that specific time and the nature of conflicts Khushal Khan faced.*

"که يو څو ګاهه ژوندی وم په جهان کښې
زر به واورم د مدو د بابا حال" (1)

په دې شعر کښې ستر خوشحال خان خټک د دوو شخصياتو "مدو" او د هغهٔ د "بابا" يادونه کړې ده. دغه شخصياتو د خوشحال بابا سره څهٔ اړيکې درلودې؟. د هغهٔ سره په کومه رشته تړلې شوي دي؟. دغه شعر خوشحال بابا په کوم تناظر کښې وئيلی دی؟. د دې وينا په شا اصل واقعات څهٔ او څنګه وو؟ يا د دغې واقعاتو اسباب او وجوهات څهٔ وو؟. او د خوشحال بابا په ژوند ئې دومره اثرات ولې پرېښودل چې هغه ئې په داسې وينا مجبور کړو؟. دا او داسې نور ډېر سوالونه د دې د لوستو نه پس د قاري په ذهن کښې را پيدا کيږي. چې د جواب دپاره ئې د ټولو نه

وړومبی په شعر کښې د ذکر شوو شخصیاتو د پېژندنې هڅه کوو. او د دې خبرې سپیناوی کوو چې "مدو" او د هغهٔ "بابا" څوک وو؟.

"مدو" بنیادي طور یو وران کړی شوی نوم دی. چې خوشحال بابا په یاد کړی شوي شعر کښې راوړی دی. د مدو نه علاوه خوشحال بابا په خپل کلام کښې د نورو کسانو نومونه هم وران کړي، لنډ کړي یا نور کړي دي. چې چرته ترې د بابا د مینې او ناز څرګندونه کیږي، چرته ترې د نفرت او کرکې او یا په څنو ځایونو کښې پرې د طنز او ملنډې اظهار را دوځاریږي. (ښکاره کیږي) او کله کله د ضرورتِ شعري په توګه خوشحال بابا مختلف نومونه وران کړي او استعمال کړي دي. چې دلته ترې یو څو مثالونه وړاندې کولی شي.

## خلو / خلي:

"د خلو د مور څهٔ حال دی
په څهٔ څیز ئې اشتغال دی (2)

"هغه واړه پسرلي دي
چې په کښې د ماخلي دي (3)

د خلو یا خلي نه مراد خالد خان دی. خلو، خلی د خالدخان د ناز نومونه دي"(4)

"خالد خان هم د خوشحال خټك د یو زوئ نامه ده" (5)

د تاریخ مرصع مؤلف ئې د مور په حقله لیکي:

"او خالد خان مور ئې کهتړه وه. لور د دولت خان ولد علي شاه ولد شهباز نون یال وه. چې خپل ځان ئې مقدم د خپل اولس شمارهٔ" (6)

"خالد خان او عابد خان د خوشحال خان د دوئمې ښځې زامن وو" (7)

افضل خان خټك ئې د زوئ نامه شهنواز ښودلې ده"(8)

## مالو او چلو:

"څوك مالو غوندې جلو غوندې پیدا شي
سراسر واړه نابود او ناپکار"(9)

"مـــــــــالو جلـــــــــــو دا دواړه
ژك ژونــــدي پــــه مزكــــه ړنـــګ"(10)

دلتــه خوشــحال بابــا د "مــالو" او "جلــو" نــامې راوړې دي. او د دغــه شــعرونو نــه ښــكاري چــې بابــا تــرې خفــه دی. او د هغــوئې نــامې ئــې د ناخوښۍ په اساس وراني كړې دي.

"كمـال خـان او جـلال خـان دواړه د خـان زامـن دي. د نـاز نومونـه ئـې مالو او جلو دي"(11)

كمـال خـان د وينځـې لـه نوسـه (نسـه) زېږېـدلی دی. خوشـحال بابـا د دهٔ د زوكړې قطعه څهٔ دا رنګ وئيلې ده:

"عمــرم بــه چهــل رسـيد چــون زاد كمـــال
درمـــاه حمـــل كـــاف و جـــيم ابجـــد
تـــاريخ ولادتـــش چـــو جســـتم ز حـــروف
فـــی الحـــال از غـــين و ســـين و بـــا ســـرزد" (12)

"د غــين و ســين و بــا" نــه د ابجــدو پــه حســاب 1062 هـــ كــال راوځــي پــه دې حســاب كمــال خــان د 1062هـــ ق كــال پــه جمــادی الاول د (حمــل 25) او د 1652ء كال د اپرېل په 13 زوكړی دی"(13)

"د تــاريخ مرصــع نــه معلــوميږي چــې امــان الله، حســن خــان او صــالح محمد د كمال خان زامن وو"(14)

دغـه رنـګ جـلال خـان هـم د سـتر خوشـحال د انغـري پـه غـاړه لـوئ شـوی او تربيــه شــوی دی. افضــل خــان ختــك ئــې د نيكــهٔ پــه حوالــه د دوو نــورو وروڼــو سره د زوكړې تاريخ داسې ښودلی دی.

"بل جلال خان او عادل خان او جعفر خان چې تاريخ ئې د ولادت دا دی:

مـــا را خـــدا چـــو عـــادل فرخنـــده فـــال داد
تـــاريخ او بخـــوان كـــه بفرخنـــده فـــال زاد
او در جميـــد ثـــانی انـــدر دو پـــنج و بـــا
زاده اســت جعفــر از پــس عشــرين و يــك زيــاد

از مولـــد خجســـة جعفـــر چو گـــه گذشـــته
آمـــد جـــلال و بـــاب فـــرخ بـــردلم کشـــاد" (15)

کامـل مومنـد د دغـې لـوړې قطعـې نـه د جـلال خـان د پيـدائش کـال داسـې اخـذ کـړی دی. چـې کـه "بفرخنـده زاد" ولوسـتلی شـي نـو 1064هــ خـو که "به" د "فرخنده" نه بېل وليکلی شي نو بيا ترې 1069هـ جوړيږي"(16)

## بددوز:

"پنـــد بـــددوز بکـــر حيـــران بهادرخـــان
هـــدايت تـــرين ســـوخته وو تـــر دا ميـــان" (17)

دې شـعر کښـې "بـددوز" فېـروز خـان تـه وئيلـی شـوی دی. او بـددوز د فېـروز وران کـړی شـوی شـکل دی."فېـروز خـان د سـتر خوشـحال د تـرۀ نامـه ده. د دۀ د مـور نـوم نېـك زن وه. او پـه قـام کهتـړه وه. د فېـروز خـان پـلار يوسـف خـان نومېـدو. يوسـف خان چې مړ شو نو د فېروز خان مور د هغۀ ترۀ يحيٰی خان په نکاح کړه"(18)

"د خوشـحال د نـورو ترونـو پـه رنـګ فېـروز خـان هـم دا نـۀ خوښـول چـې د هغـوئ پـه موجـودګۍ کښـې دې خوشـحال د خټکـو سـرداري وکـړي. ځکـه نـو د خوشحال د ګرفتارۍ په سازش کښې شريك شو"(19)

## صدو:

"صـــــدو د نـــــور ځـــــۀ نـــــۀ دی
خـــــوئې غـــــواړي پـــــه پالنـــــګ" (20)

"راشـــه ګـــوره خلقـــه! نصـــيب پـــه ځـــو خـــوري
تـــورې نـــور ځوانـــان وهـــي منصـــب صـــدو خـــوري" (21)

صـدو يـو بـل مختصـر کـړی شـوی نـوم دی. چـې خوشـحال بابـا پـه دغـه بـره شعرونو کښې استعمال کړی دی. د صدو په حقله دوست محمد کامل ليکي:

"صـدو د خوشـحال بابـا د يـو زوئ مخخـف نـوم دی. غالبـاً سـعادت خـان، صـدر خـان نـۀ دی. ځکـه چـې پـه يـو بـل نظـم کښـې سـدو يـا صـدو او صدر دواړه مذکور دي. نو صدو او صدر دوه کسان دي"(22)

ولې دلته دا خبره تحقيق طلب ضرور ده. چې که د صدو نه مراد سعادت خان وي، نو هغه خو منصبدار نۀ دی پاتې شوی او چې منصب ورته نۀ دی ورکړی شوی نو د دغه پورته شعر نه د سعادت خان مراد اخستل سم نۀ ښکاري.

## عبدل / باباډل

"همګــــي ځوانـــان زمـــا د زړۀ ارمـــان دي
پـــه کښـــې بېلـــه د عبـــدل تانـــده ځـــواني ده
د غلـــيم ســـره پـــه اس غـــاړه غـــړې شـــو
د عبـــدل د مړتتـــوب بخـــره کـــاني ده" (23)

"ښـــــۀ زوئ د بابــــــا دل دی
تـــــل دې ژوي پـــــه جهـــــان" (24)

دې شعرونو کښې خوشحال بابا عبدل او بابادل دوه نومونه راوړي دي. کوم چې بابا د خپل زوئ عبدالقادر خان دپاره استعمال کړي دي. "دی په 1063هـ کښې زېږېدلی ؤ. د دۀ د نوم "عبدالقادر خان" نه د ابجدو په حساب د دۀ د پيدايښت کال راوځي" (25)

"هغه د يو قادرالکلام شاعر نه علاوه يو ډېر ښۀ نثر نګار هم ؤ. او د شپېتۀ کتابونو د نظم او نثر مؤلف ؤ"(26)

"دی د لاهور د شېخ سعدي مريد بلکې د هغۀ خليفه هم ؤ. او په دې وجه به ئې دۀ ته خليفه صاحب هم وې"(27)

"دا هم وئيلی شي چې د دۀ د خپل ورارۀ افضل خان سره څۀ زړۀ بداوی راغلی ؤ. او د دې وجه دا ښودلی شي چې دۀ د هغۀ مشري نۀ منله. کېدی شي چې د دۀ د دغې غم او فکر وجه هم دغه وي. د دوئ د مخالفت په سلسله کښې دې پورې وئيلې شوي دي چې عبدالقادر خان په اخره کښې د افضل د لاسه يا د دۀ په ايما ووژلی شۀ"(28)

**جېړ:**

"چــې اول مـــاتې ئـــې ګــډه پـــه ســـورو کـــړه
پـــه ســـورو کښـــې چـــار د جـــېړ د عثمـــاني وه (29)

"چـــې ئـــې ورځ و شـــپه پـــه مـــا بانـــدې يـــوه کـــړه
دريغـــه دريغـــه جـــېړ و بـــاز و صـــدرخانه" (30)

"هغـــــــه ملـــــــك د مښـــــــکو هـــــــېړ دی
چـــــې پـــــه کښـــــې د بابـــــا جـــــېړ دی" (31)

"حــــال د جـــــېړ د مـــــور ځـــــۀ شـــــان دی
زړۀ ئـــــې ځـــــو ځايـــــه پرېشـــــان دی" (32)

"جېړ د يحيٰـی خـان د مينـې نـوم ؤ پـه فـراق نامـه کښـې چې د سـپنګاؤ د پنـاه ګزينـو پـه يـاد کښـې کومـه مثنـوي ليکلـې شـوې ده. هغـې کښـې د سـعادت خـان، بهـرام او نظـام نـه پـس د جـېړ نامـه راغلـې ده. ځکـه نـو مـونږ وئيلـی شـو چـې د خوشـحال بابـا پـه زامنـو کښـې جـېړ ځلـورم دی او کـه د اشرف خان نه ئې را اخلو نو بيا جېړ په پينځم نمبر راځي"(33)

د يحيٰی خان د پيدا ئېښت په لړ کښې د تاريخ مرصع مؤلف ليکي:

"يحيٰـی خـان چـې تـاريخ د دۀ او د شـهباز خـان دتولـد پـه دا يـوه مصـرعه کښې راغلی دی:

گلـــــــــــی بـــــــــــاغ را زاد آزاد خـــــــــــان" (34)

د "گلـی" پـه ځـایٔ کامـل مومنـد "ګـل" ليکلـی دی او د "ګـل بـاغ را زاد" نه ئې د يحيٰی خان د پيدا ئېښت کال 1065ھ راويستی دی.

"د يحيٰـی خـان مـور ځينـۍ لـه تپـې د الـك خېـل وه. لـور د الـف ولـد ملـك سرور ولد ميرك وه"(35)

**نجو:**

"خالـــــد خـــــان نجـــــو شـــــاکر طـــــاهر دا هـــــم دي
مجاهـــــد کـــــامران همـــــه شـــــه برخـــــوردار" (36)

نجو په دې شعر کښې خوشحال بابا د ضرورت شعري له مخه د نجابت خان په ځائ په کار راوستی دی. نجابت خان، شادمان خان، پیر خان، دا ټول د خوشحال خان له وینزو نه زېږېدلي زامن دي"(37)

نجابت خان چې د ناز نامه ئې نجو ده. د تاریخ مرصع د لیکنو نه ثرګندېږي چې د افضل خان د سرداری په ابتدا کښې د هغهٔ کلك ملګری ؤ. او د بهرام خان خلاف ئې د هغهٔ دپاره هڅې کولې. ولې د 1130هـ کال نه پس واقعات داسې ښائي چې نجابت خان د افضل خان ختهك خوا پرېښې ده او د هغهٔ سره د مرستې په ځائ ئې هغهٔ ته بلا مشکلات پیدا کړي دي"(38)

**سدو:**

"که د چا له لاسه ومرم ګمان مه کړه
چې بهرام سدو به روغ کا د چا ثلی" (39)

سدو د سعادت خان وران شوی شکل دی. "دا نامه د اشرف خان نه پس راغلې ده. نو غالب قیاس دا دی چې سعادت خان ترې مراد دی"(40)

"تر هجري وروسته د خان بل مشر زوئ سعادت خان دی چې په 1052هـ ق د محرمې په 6، 1642ء د اپرېل په 7 زوکړی دی"(41)

"سعادت خان د خان علیین مکان د قید په دوران کښې د میرباز او باقي په ملګرتیا کښې ډېر اهم کردار ادا کړی ؤ"(42)

**بد فرجام:**

لکه عابد وکړه یا بد فرجام وکړه
دا حال په هر چا دی که په خوشحال شهٔ (43)

بد فرجام نه مقصود بهرام خان دی چې خوشحال بابا ورته د نافرمانی له کبله بد فرجام وئیلی دی. "بهرام د خوشحال درېم زوئ ؤ"(44)

"مور ئې الك خېله ښینی ختکه وه"(45)

خوشحال بابا ئې د پیدائش قطعه په فارسی کښې داسې وئیلې ده:

در یـــــاؤ الـــــف مـــــاه ربیـــــع الاول
بهــرام امــد بــدوئ ئــې رخشــنده چــو مــاه
تـــاریخش شـــد کـــه بخـــت بابـــا امـــد
زیـــن جملـــه شـــود جـــیم هـــزار و پنجـــاه" (46)

پــه دې حسـاب بهـرام خـان پـه 1053هــ کښـې زېږېـدلی دی. "بهـرام د خوشـحال خـان نـاخلف زوئ دی. چـې د خـان او د خـان پـر مسـند د ناسـتو کسـانو پـه وړانـدې ئـې د مغلـو پـه ننګـه او لمسـه سرکشـي او تمـرد کـړی ؤ. د تـاریخ مرصـع مؤلـف (د بهـرام ورارهٔ) ئـې د بـدو اعمـالو او نـاوړه چـارو ډېـر بیانونه راوړي دي. خان هم په خپل کلیات کښې ترې سر ټکولی دی"(47)

"دهٔ چـې څـومره نـوم ګټلـی دی د هغـې لویـه وجـه د خپـل عظـیم پـلار نـه غـاړه غـړول او د هغـهٔ خـلاف د نـاخلفۍ بښوه اختیـارول دي. خـان علیـین مکـان د دې بـدبخت د زوکـړې مـاده "بخـت بابـا آمـد" لیکلـې وه. ولـې د الله شـان تـه وګـوره چـې دی د پـلار دپـاره بدمرغـه وګرځېـد. د خـان علیـین مکـان د کـلام نـه څرګنـدیږي چـې بهـرام د لیکنـې او امـلا د فـن ډېـر مهـارت لرلو"(48)

"د زلمـي هیـواد مـل د لیـك تـر مخـه بهـرام پـه 1124هــ کښـې مـړ دی"(49)

## بابا جان:

"هغـــــــه ملـــــــك واړه جنـــــــان دی
چـــې پـــه کښـــې د بابـــا جـــان دی" (50)

دلتـه خوشـحال بابـا عبـدالعزیز خـان د بابـا جـان پـه نامـه یـاد کـړی دی. دهٔ هم د ستر خوشحال په کهالهٔ کښې سترګې پرانستې دي.

"تـاریخ د عبـدالعزیز خـان او عبـدالقادر خـان چـې عبـدالعزیز خـان پـه طفولیت کښې مړ دی دا دی:

"عبدالعزیز خان که کنون جان و هوش ماست
دریـنم شب بـه پـنجم ذوالحجـه زاد بـس" (51)

د دغـه بیت نـه جـوتیږي چې عبدالعزیز خـان پـه 1063هـ د ذوالحجې په پینځمه زېږېدلی دی او د دې نه علاوه د دغې پورته بیان نه څرګندېږي چې عبدالعزیز خان په ماشوموالي کښې مړ دی.

## شېرا:

"شـاهي بېـګ سـاغری پـه تـن ملـك مېـری دی
تــر "شــېرا" اول د دهٔ کـــړې کـــار تمـــام (52)

"شېرا" لکه څنګه چې د دې شعر نه برېښي چې خوشحال بابا دا نوم وران کړی دی او د دغه شخصیت نه په کښې د دومره نفرت څرګندونه کوي چې د شاهي بېګ نه وړاندې ئې د وژلو خواهشمند دی. شېرا اصل کښې د بنګشو لوئ سردار شېر محمد خان بنګش پله اشاره ده.
"شېر محمد خان نسلاً بنګش ؤ. په خپله قبیله کښې د لوئ نامې جامې خاوند ؤ. د دهٔ مور بي بي دور نومېده"(53)
"د مهابت خان د صوبه دارۍ په اوان شېر محمد خان ګرفتار کړی شو"(۵۴) "او د دهٔ مور د بنګشو سرداري سنبال کړه اورنګزېب عالمګیر دی اوولس اتلس کاله په هندوستان کښې خوار و زار وساتلو او کله چې جسونت سنګهـ او شجاعت خان د یو لوئ فوځ سره د پښتنو د مقابلې دپاره راتلل نو دی هم ورسره راغی"(55)
د خوشحال بابا د وینا تر مخه شېر محمد خان د هندوستان نه زما سره د ښکر وهلو پخه اراده کړې وه. هم دا وجه وه چې کله هغه په اټك راتېرېدو نو ما ته خپل اولس د هغهٔ د وهلو خبره وکړه. ولې ما د پښتونولۍ له رویه د هغوئ په خبره عمل و نهٔ کړو. خو کله چې هغه په ځائ شو نو د شاهي موشك په بلنه ئې په ما هغه وخت حمله وکړه کله چې زهٔ په منډنو د لړ شان لښکر سره وم. ولې شېر محمد خان ماتې وخوړه"(56)

"شېر محمد خان هغه وخت وځلېد کله چې دريا خان افريدي د مصلحت نه بغير يوائې په کوهاټ حمله وکړه او دغه جنګ شېر محمد خان وګټو. هغۀ د دغې ګټې بې پناه تشهير وکړو. ځائ په ځائ ئې خطونه خوارۀ کړل او د افريدو سرونه ئې مغلو ته وليږل. په دغه ګټه مغلي حکومت شېر محمد خان ته ډېر انعامات ورکړل"(57)

"او د عالمګيري جلوس په څليرويشتم کال د اورنګ زېب عالمګير له خوا دۀ ته د "شېر خان" خطاب ورکړی شو"(58)

د دې نه پس چې شېر محمد خان د ګنبت په جنګ کښې خوشحال خان له شکست ورکړو نو د هغۀ شمله نوره هم جګه شوه. ولې خوشحال خان د ګنبت د جنګ بدله ډېره زر د ډوډې د جنګ د ګټې په صورت کښې واخسته. هم دغه واقعات وو چې خوشحال بابا شېر محمد خان ته په "شېرا" وئيلو مجبوره شوی دی.

**باز:**

"هم شنقار دی هم شاهين شته
هم ښۀ باز لرم لك غاړی" (59)

"راته درست د دهلي ښهر وۀ بوستان
چې په کښې وۀ باز، باقي، سعادت خان" (60)

"چې ئې ورځ و شپه په ما باندې يوه کړه
دريغه دريغه جتې و باز و صدرخانه" (61)

"هغه ملك سره تل راز دی
چې په کښې د بابا باز دی" (62)

"حال به څۀ د باز د مور وي
په اور سوی لکه سکور وي" (63)

په دغه شعرونو کښې د "باز" نامه راوړی شوې ده. باز د شهباز خان مختصر نوم دی. چې بابا په خپل کلام کښې په مختلفو حوالو یاد کړی دی.

"باز (شهباز خان) او بختناك دواړه د خوشحال خان زامن او له یوې مور دي. د دوئ د ادبي فعالیت او اثارو په باب تراوسه چا څۀ نۀ دي وئیلي"(64)

"او شهباز خان او بخت ناك چې مور ئې لور د صاحب خان ولد بوچه خان ولد ملك باره مهمندزئی د نوښهر وه"(65)

د باز (شهباز خان) د زوکړې کال کامل مومند 1065هـ ښودلی دی"(66)

د تاریخ مرصع نه دا خبره راډاګې ته کیږي چې شهباز خان د خپل پلار سره په دغه قبیلوي جنګونو کښې کلك ولاړ ؤ. ولې د پلار د مړینې نه پس ئې د افضل خان سره تعلقات خړ ښکاري. ځکه خو په کال 1125هـ کښې شهباز د افضل خان په زندان کښې لیدی شي.

هم د دې پورته ذکر شوو کسانو، خلو، خلی، مالو، جلو، بدروز، صدو، جټ، عبدل، بابادل، نجو، سدو، بد فرجام، باباجان، شیرا، او باز په رنګ ستر خوشحال د مکرم خان په ځائ "مدو" استعمال کړی دی. مکرم خان د بهرام خان زوئ او د خوشحال خان نمسی دی. دغه شان د مدو د بابا نه مراد بهرام خان دی. لکه څنګه چې بهرام خان تر اخره وخته پورې د خوشحال بابا ژوند د ترخو نه ډك کړی ؤ. هغه ئې ارام ته نۀ پرېښودو. په رنګ رنګ ډولونو ئې بابا ته ستونځې پیدا کولې او عن چې د هغۀ سره ئې په جنګونو کولو هم ایله نۀ ده کړې. هم دغه رنګ ښکاري داسې چې "مدو" هم په دغه هلو ځلو کښې برابر شریك شوی دی. او د نیکۀ خلاف ئې د خپل بابا په پره برخه اخستې ده. لکه د تاریخ مرصع مؤلف چې لیکي:

"نور بهرام، مکرم خان ځوئې په خان باندې تعین کړ چې زولنې یوسه خان په قید کړه خان هم دا فوځ ولید چې راغی. یو ګوهر خان نصرت خان ورسره وو نور ئې ټوپك واخستل د غرۀ اړخي ته شول"(67)

"د دې ظالمانه حکم د تعميل دپاره مکرم خان مخکښې شو خو چې د خوشحال پرې نظر ولګېد نو د ډېرې ځوانمردۍ مظاهره ئې وکړه. د خپلې کوډلې نه راووت. سره د دې چې په دغه اوان هغه د خپلو بازو نه پرېوتې ؤ. ستړې شوې ؤ. خو بيا هم خپل دښمن ته ئې خبرداری ورکړو چې د نزدې راتلو هڅه و نۀ کړئ. خوشحال بابا په خپل ځائ کلك ولاړ ؤ او چا هم هغۀ ته د نزدې ورتللو حوصله و نۀ کړی شوه"(68)

"او مکرم خان د پلار په دغه مقصد تر سره کولو کښې بريالی نۀ شو. او کله چې هغه پلار ته خالي لاسونه راستون شو نو بهرام بد فرجام د خپل زوئ په دغه ناکامه ستنېدو د هغۀ نه ډېر ناراضه شو. او يو ځل بيا ئې هم د دغه لښکر سره د خوشحال خان پناه ځائ ته ولېږلو. د دې حکم سره چې په هر جوړ وي خو نيکۀ ونيسه او دلته ئې راوله"(69)

"لښکر ورته پرېوتو، ځوکۍ ورته کښېناستې په دې غرض چې کله هم خوشحال خان غافله شي نو ګرفتار به ئې کړي. دغه وخت خوشحال خان په زړ بوډۍ کښې ؤ. د درې اتيا کلونو عمر ته رسېدلی ؤ. چې د مونځ وخت به شو نو دغې لښکريانو ته به ئې غږ وکړو چې اې نااهلو! دومره فرصت خو راکړئ کنه چې مونځ اودس په کښې وکړم. غرض دا چې په دغه وخت کښې خوشحال خان ډېر په تنګسه کښې ؤ"(70)

دا وو هغه حقائق چې د خوشحال خان په نظر کښې ئې مکرم خان نه "مدو" جوړ کړی ؤ. ولې دلته يو وضاحت کول ضروري ګڼم او هغه دا چې د مکرم خان يو بل ورور هم ؤ. ځوك چې معظم نومېدۀ. داسې برېښي چې معظم خان د خوشحال خان خلاف نۀ دی اودرېدلی بلکې د تاريخ مرصع د ليك نه جوتيږي چې هغه د خوشحال خان ډليز او پلوی ؤ.

"خان عليين مکان په دا وخت چې په لوټ کښې وۀ له مرغز ئې د بهرام ځوئې معظم وبالۀ. د سورو د جمعيت سره خود په لور د سونيالی متوجه شۀ. نۀ په بدي د ما د اولس دا بې ادائي ورته بده ښکاره شوه چې د ما بې امري ئې وکړه. هرګاه چې زۀ خبر شوم په سبب د بهرام نحوست اِنجام د ځوئ چې له خان سره وۀ زۀ هم د نيلاب غاښي لره وراغلم"(71)

یو بل ځای لیکي:

"بهرام خپل خویونه واخستل. معظم ځوئي ئې بهرام ته په ګوندی ودروۀ، بهرام هم د دوئ په فکر شۀ"(72)

دغه رنګ دا هم وائي: "خان علیین مکان سونیالی لره راغی د بهرام ځوئې معظم ئې د فوځه سره وبالۀ ځان سره ئې کښېناوۀ اولس تمام د ما سره متفق چې زۀ خبر شوم له لښکره سره پرې وراغلم"(73)

د دې بیانونو نه دا خبره ثرګندیږي چې معظم د خوشحال خان خلاف نۀ دی جنګېدلی بلکې د هغۀ پلوی او مرستیال پاتې شوی دی. او بهرام خان چې څنګه د خپل پلار بې ادبي، بې مخي او مخالفت کړی دی. هم دغه رنګ بهرام خان ته خپل زوئ معظم رانېغ شوی دی او وخت ترې انتقام اخستی دی. د خوشحال خان د معظم د دغې ملګرتیا، تعلق او پرې سبب ؤ چې کله معظم خان ومړ نو خوشحال بابا د هغۀ په مرګ یوه شانداره مرثیه اووې. د څۀ نه چې د معظم سره د خوشحال خان د بې کچې مینې او محبت اظهار او د هغۀ په جدائۍ د ډېر غم اندازه ښۀ په اسانه لګېدلی شي.

د معظم خان په حقله د دې وضاحت نه زما محض مقصد دا ؤ چې د ځنو لوستونکو د دغه سوال د را پیدا کېدو احتمال محوه شي چې ګنې د بهرام خان خو معظم هم زوئ ؤ او شائد چې د "مدو" نه مراد معظم وي. له دغه خاطره د معظم ذکر ضروري ؤ. معظم خان په 1098هـ کښې وفات شوی دی. او مکرم خان د خوشحال خان د ژوند تر اخره وخته پورې د هغۀ خلاف لاس پښه وهل. ځکه نو په ذکر شوي شعر کښې د "مدو" نه مراد مکرم خان دی او د "مدو بابا" د هغۀ پلار بهرام خان اړخ ته اشاره ده. چا چې خوشحال خان د یوې اوږدې مودې پورې په سخته او لړزان ساتلی دی. هغه ئې دمېک ته نۀ دی پرېښی او په زړو هډوکو ئې په توره رااخستلو مجبوره کړی دی. هم د دغه عمل ردِ عمل ؤ چې خوشحال خان په خپله شاعرۍ کښې د بهرام خان پوره پوره خبر اخستی دی او ډېر بلا شعرونه ئې د هغۀ د کردار، عمل او شخصیت په لړ کښې وئیلي دي.

د دې دومره څېړنې نه پس به قاري په خپله په دې نتیجه رسېدلی وي چې بهرام خان د خپل پلار حکم عدولي کول. د هغهٔ په بې ادبۍ او بې مخۍ ایله نهٔ کول. د هغهٔ خلاف توره ډال رااخستل، ورته بلا مشکلات پیدا کول، د هغهٔ د ګرفتارۍ دپاره مکرم خان زنځیرونه په لاس لېږل، داسې ثبوتونه دي چې د "مدو" د مکرم خان ثابتولو دپاره او د "مدو بابا" د بهرام خان د منلو دپاره کافي دي.

❖❖❖

# حوالې

(1) خټک، خوشحال خان، د خوشحال خان خټک کليات، مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، اداره اشاعت سرحد پېښور، منظور عام پرېس پېښور، سن اشاعت 1960ء، مخ 546.
(2) هيواد مل، زلمی، د فراق نامې تعليقات، کابل پوهنتون، کابل، د لوړو او مسلکي تحصيلاتو وزارت مطبعه کابل، 1362ھ ش، مخ 79.
(3) ايضاً، مخ 80.
(4) ايضاً، مخ 80.
(5) مومند، دوست محمد خان کامل، خوشحال خان خټک، (اردو) اداره اشاعت سرحد پشاور، مطبع نهٔ لري. سن اشاعت 1951ء مخ 105.
(6) خټک، افضل خان، تاريخ مرصع، مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، جدون پرېس پېښور، سن اشاعت نهٔ لري، مخ 259.
(7) خديجه، فيروز الدين، ډاکټر، خوشحال خان خټک، (حيات و فن) مترجم ډاکټر اېم اقبال نسيم خټک، اکادمي ادبيات پاکستان اسلام اباد، پوسټ افس فاؤنډېشن پرېس اسلام اباد، سن اشاعت 2004ء، مخ 357.
(8) خټک، افضل خان، تاريخ مرصع، مخ 436.
(9) د خوشحال خان خټک کليات، مخ 517.
(10) ايضاً، مخ 851.
(11) د فراق نامې تعليقات، مخ 121.
(12) خټک، افضل خان، تاريخ مرصع، مخ 259.
(13) د فراق نامې تعليقات، مخ 121.
(14) خټک، افضل خان، تاريخ مرصع، مخ 396.
(15) ايضاً، مخ 259، 260.
(16) ايضاً، مخ 1180.

(17) د خوشحال خان ختټك كليات، مخ 216.
(18) ختټك، افضل خان، تاريخ مرصع، مخ 257.
(19) ايضاً، د 258، 259 او 260 مخونو لنډيز.
(20) د خوشحال خان ختټك كليات، مخ 581.
(21) ايضاً، مخ 411.
(22) ايضاً، مخ (حاشيه)
(23) ايضاً، مخ 858.
(24) ايضاً، مخ 830.
(25) ختټك، عبدالقادر خان، ګلدسته، شاهين پرېس پېښور، سن اشاعت اکتوبر 1961ء، مخ 50.
(26) خوشحال خان ختټك، (اردو) مخ 232.
(27) ختټك، عبدالقادر خان، ګلدسته، مخ 53.
(28) ايضاً، مخ 51.
(29) د خوشحال خان ختټك كليات، مخ 558.
(30) ايضاً ، مخ 843.
(31) د فراق نامې تعليقات، مخ 80.
(32) ايضاً ، مخ 79.
(33) خوشحال خان ختټك، (اردو) مخ 231.
(34) ختټك، افضل خان، تاريخ مرصع، مخ 258.
(35) ايضاً ، مخ 259.
(36) د خوشحال خان ختټك كليات، مخ 518.
(37) خوشحال خان ختټك، (اردو) مخ 234.
(38) ختټك، افضل خان، تاريخ مرصع، د 365 – 415 مخونو لنډيز
(39) د خوشحال خان ختټك كليات، مخ 871.
(40) ايضاً ، مخ 830.
(41) د فراق نامې تعليقات، مخ 117.
(42) خوشحال خان ختټك (اردو) 231.

(43) د خوشحال خان خټک کليات، مخ 714.
(44) مومند، دوست محمد خان کامل، د خوشحال په باب د خارجي پوهانو ليکنو ته ژوره کتنه، مترجم شېر محمد کريمي، د افغانستان د علومو اکاډيمي کابل، سن اشاعت 1363ھ مخ 18.
(45) راورټي، مېجر، ايچ، جي، ګلشن روه، مطبوعه لندن، بار ثاني، 1767ء مخ 125.
(46) خټک، افضل خان، تاريخ مرصع، مخ 258.
(47) خوشحال خان خټک (اردو) مخ 231.
(48) ايضاً، مخ 231.
(49) هيواد مل، زلمی، *فرهنگ زبان و ادبيات پښتو*، د ښوونې او روزنې وزارت کابل، سن اشاعت، 1356ھ جلد I، مخ 81.
(50) د فراق نامې تعليقات، مخ 80.
(51) خټک، افضل خان، تاريخ مرصع، مخ 259.
(52) د خوشحال خان خټک کليات، مخ 559.
(53) خټک، افضل خان، تاريخ مرصع، مخ 289.
(54) ايضاً، مخ 289.
(55) ايضاً، مخ 326.
(56) ايضاً، مخ 319.
(57) ايضاً، مخ 321.
(58) پرېشان خټک، پروفېسر، پشتون کون؟، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، جدون پرنټنګ پرېس پېښور، سن اشاعت 1984ء مخ 493.
(59) د خوشحال خان خټک کليات، مخ 428.
(60) ايضاً، مخ 579.
(61) ايضاً، مخ 843.
(62) د فراق نامې تعليقات، مخ 80.
(63) ايضاً، مخ 79.
(64) ايضاً، مخ 120.

(65) خټک، افضل خان،تاریخ مرصع، مخ 259.
(66) بادشاه روم، ډاکټر، د خوشحال په کلام کښې مذکور شخصیات، غیر مطبوعه مخ 574.
(67) خټک، افضل خان، تاریخ مرصع، مخ 508.
(68) خوشحال خان خټک، (حیات و فن)، مخ 310، 311.
(69) ګلشن روه، مخ 50.
(70) پرېشان، خټک، پروفېسر، پشتون کون؟، مخ 565.
(71) خټک، افضل خان،تاریخ مرصع، مخ 501.
(72) ایضاً، مخ 506.
(73) ایضاً، مخ 503.